دمقالی لیکونکی : یلسسون ګونار( Ulson Gunnar)
منبع او خپریدو نیټه :ګلوبال ریسرچ « ۲۰۱۷-۴-۱۹ ».
ژباړونکی: پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

-----------------------------------------------

## ولی دامریکي متحده ایالات په افغانستان کي دخپلو تولو غټ غیر اتومی بمب وکارول

*Afghanistan: why did the US Deploy its Largest Non-Nuclear Ordance*

دامریکی متحده ایالات وروسته له (۱۶) کا لو میشته توب څخه بیاهم دخپل هد ف دترلاسه کول یعنی د یو ټیکا و(با ثبا ته) له تروریستی سازمانونو اوډلو ټپلو څخه فارغ دیوآزاد افغانستان په را مینځته کیدو کی پا تي راغی سره د هغی کوم چی دخپلو حملو اودعملیا تونو د سرته رسولو دپا ره ددي هیواد له سیمیزاو سراسری منطقو څخه هم کار واخیست اولاتروا سه هم د امریکی د متحده ایالاتو زرګونه سرتیری په افغانستان کی باقی پا تی دی اوهڅه کوی چي د یو ډیر نامنظم اوفوق العاده فاسد اوناولی رژیم څخه کوم چي دواشنګټن په مټ دافغانستان په پلازمینه کابل کي په واک رسیدلي دی له هغه څخه سا تنه وکړی حا ل داچي د هیواد داکثرو ولایا تو پوری تړلي اولسوالی دافغانستان د لاس پوځی اودامریکی د متحده ایالاتو د مخا لفا نو ترولکی لاندی دي.



سربیره پرهغه دافغانستان ګاونډی هیوادونه لکه روسیه ، چین او ایران هڅه کوی چی دافغانستان په جګړه کی دککړو خواو دسولی دروند اودرامینځته کیدو په مخ کی خنډ شی ترڅو چي په دی بڼي سره په افغا نستا ن کی د امریکی د متحده ایالاتود ستراتیژیکی بریا لیتوب مخه ونیسی .

لکه هغسی چی مونږ ټولو ته معلوم دی هغه داچی په دي وروستیو اونیو کی دامریکی متحده ایالات اعلان وکړ چی دهغه هیواد هوایي ځواکونه په افغانستا ن کی د اسلامی دولت دجنګی مهما تو زیرمی او دپیوګان دیو ډیر غټ غیر اتومی بمب په

کارورلو سره دری وری کړ.
نیویارک تایمز دخپل یو مقا لی تر سرلیک لاندی دامریکی د متحده ایالاتو دهوایی ځواک پواسطه سره دداعش پر تونلونو اودجنګی سلاح اودمهماتو پر زیرمو باندی دتولو «بمونودمور» په غورځولو سره داسی ادعا کوي : امریکا دخپل زرادخاني څخه خپل یو ډیر غټ او ځواکمن بمب چي «دبمونو دمور» په نوم سره یادیږی دپنجشنبی په ورځ داسلامی دولت دجنګی مهما تودزیرمو په دیبوګانو اوځمځو باندی وکارول داهغه مطلب دی چي د پنتاګون له خوا په دی شا ن سره اعلان کړ شو: دغه ډ یر غټ غیر هستوی بمب دیو لوی بارورنکی الوتکی څخه دداعش دسلاح اود جنګی مهما تو پر د یپوګا نو باندی وغورځول شو.
دغه هوایی برید دیوداسی غټ بمب په ګذار سره کوم چي دهغه رسمی نوم د(BGB4-43) یا دهوایی چا ودید ونکی سلاح په نوم سره یادیږی دامریکی دمتحده ایالاتو دهوایی حملو په تاریخ کی د لمړی ځل د پا ره پکارورل کیږی اودا هم ددونالد ترومپ له خوا د هغه پرزوینه دی کوم چی هغه د خپل ما موریت په لمړی میا شت کی دامریکی نظامی قوتونو (پنتاګون) ته اضافی اقتدار وبخښل او دخپل دغه بخښنی په ترڅ کی له هغو څخه وغوښتل چی دداعش دما تی روند او جریان په ډیر بیړه سره ترسره کړی اوهرڅومره زر داعش باید له پښو وغورځول شی .اما دونالد ترومپ ددغه بمب د غورځونی په اړه څه توضیحات ورنکړ چي ایا دی پخپله هوایی قوتونو ته هدایت ورکړی وه چی دغه بمب وغورځوی اویا څنګه ؟
بی ویلو دی پاتی نشی اوهغه داچی دامریکی دمتحده ایالاتو اود هغه هیواد درسنیو په واسطه سره دتبلیغاتو تنور ډیر ګرم ساتل شوی اوهغه داچی د ا مریکی د متحده ایالاتو دولت ډ یر په هڅه اواند کی دی چي غواړی داعش ته په ډیر بیړه سره ما تی ورکړی حال داچی دا پخپله اساساً نا قص اوبی بنیاد را ښکا ري .
امریکی له خواداسلامی دولت د مینځه وړلو اسا سی نقص اوعیب کوم چی مخکی مو یاد کړ په دي کي دي چي داپخپله دامریکی متحده ایالات وه کوم چي پخپله څوواری په ډاګه کړي چي امریکی دسوریی په ختیځ کي د«سلفی سلطنت» دجوړولو اودایجادولو په لټه کي وه یعنی په همغه ځای کي کوم چي اوس اسلامی دولت ژوند کوي اوداهم دامریکی دمتحده ایالاتو له خوا څرګند شوی وه چی د فارس په خلیج کی دامریکی ډیر نژدی متحد ین لکه سعود عرب او دقطر هیواد د اسلامی دولت د بهرنیو ملاتړ کونکو هیوادونو له جملی څخه دي یعنی دوی (دامریکی متخده ایالات ، سعودی عرب او قطر) دری واړه په ګډه سره هڅی ترسره کړی چی دداعش دولت جوړکړی.
داسلامی دولت دربینتینی اود پوره ما تي دپا ره مخکی له هر څه نه با ید هڅه او اند ترسره شی چی د دغه دولت اصلی او بنیادی ما لی سرچینی وپیژند ل شی اود دغه

*تروریستی سازمان دهغه دجنګیالیو دظرفیت دکمزوره کولو دپاره با ید چی هغه پیژند ل شوی ما لی سرچینی له مینځه ویوړل شی ، حا ل داچی دامریکی متحده ایالات اوس په روښا نه بڼی سره ددی سا زمان د ما لی منا بعو د په له مینځه وړلو کی پا تي راغلی دي اویا نه غواړی چی ددی تروریستی سازمان ما لی سرچینی شنډ کړی اوداخکه چي دامریکی دمتحده ایالاتو دولت غواړی چی دخپل نیا بتی جګړو د مخکی وړلو او په نړی کی د خپل نظا می حضورد یو تل پا تي ځواک په بڼه دغه تروریستی سازما ن ترخپل ځنګ وسا تی اودهغه دپا تی کید و دپاره لاره اواره کړی اویا په یو اویا بل ډول سره دخپل پوځی حضور ته د دوام د پاره دغو تروریستی ډلو ته داسی مجوز ورکړی چي هغوی په نړی کی دځو قطبی نظم دیو بد یل په بڼه دامریکی د متحده ایالاتو په مقا بله اوپه سیا لی کی پا تي شي.*

***په افغانستان کي د « بمونو د مو ر» په کا رولو سره دامریکی د متحده ایالاتو د بهرنی چا رو د پا لیسی معنی اومفهوم څه دي ؟*** *دیو ځرګند ارزښت یا دیو اهمیت په نظرکی نیولو سره دامریکی دمتحده ایالاتو له خوا دداسی یوستر جنګی اوهوایی انفجاری مها تود په کاروړلو طرح له هغه وخته چي دامریکی پواسطه سره په کال (۲۰۰۱) کی افغا نستا ن رانیول کیږي دافغانستان له اشغال کیدو څخه را وروسته دا دیو لمړنی اوستر نظا می عملیا تو پیل دی چي په افغانستا ن کی پلی کیږی ، اودا ډول ستر عملیات پخپله د نا هیلي اود نا ا میدی نښی اونښا نې دی اوهغه داچي (۱۶) کاله وروسته دافغانستان له اشغال څخه بیاهم دامریکی متحده ایالات په افغانستان کی دتروریستی دکلک اودتهدیدی ضربا تو سره په شمول دداعش دجګړه مارو سره کوم چي پخوا په افغانستان کی وجود نه لرل دجګړي په توما ر کي مخا مخ اوبند پا تي چي دا پخپله په دی مفهوم دی اویا داسی را ځرګند یږی چي امریکا دخپل بهرنی سیاست په نظر کی نیولو سره په مرکزی آسیا کی دپوره اوبشپړ ماتی سره مخا مخ دي .*

*په هر صورت که داسلامی دولت سره دواشنګټن دریښتینی اړیکي ماهیت په نظرکی ونیول شي ، څه دواشنګټن ونډه اخیستل ددغه اسلامی دولت په رامینځته کیدو اوڅه دهغه دولت ددوام په اړه یولړ سترهڅی ترسره کړي او اوس چی دامریکی متحده ایالات دخپل زرادخانی څخه دغه ستر د هوایی انفجاری سلاح (BGBU-43) د افغا نستا ن په د ننه کي وچول* ***چی داپخپله په قوی احتما ل سره دافغانستان د پولو څخه د با ندی امریکا د خپلود ښمنا نود ګټی په پام سا تلوسره دغه یو«تکان ورکونکي » عملیات ترسره کړ.***

*په سوریه کي په یو اړخیز ډول دامریکي پواسطه سره دکروز دتوغند یو تغول دهغه هیواد په اصطلاح دکیماوی سلاح داستعمال په تلافی کي ترسره شو امریکي بی دهغه چي ددی کیمیاوی سلاح داستعمال په اړه چي د چا له طرفه په کا ر وړل شوی وڅیړل شي نه یواځی چي دڅیړلو جریا ن یی رد کړ بلکه د ملامتیا پړی د سوری ددولت پر غاړه واچول نوددغه ستر انفجاری هوایی سلاح (B GBU-43) په افغانستا ن کي کا رول*

داسی په نظر رسی چی دا پخپله تر زیا ته حده پوری یو جیو پو لیتیکی نمایش دامریکي دمبارزی دادعا د هر ستراتیژیکی ارزش په پرتله په افغانستان کی وه چي ترسره شو .

په یاد کی موبا ید اووسی چی د ستر هوایی انفجاری سلاح (GBU-43/) اودهغه دغورځولو وسیله چي د کارګو د الوتکی څخه کا ر و اخیستل شو هغه په دی مقصد دی چی دغه الوتکی دخپل پرواز په موده کي ډیر بطی او ورو الوتنه کوی اود اړین هیواد په فضا یی حریم کی دهغه منا سب هوایی دفاعی هدف په لټه کی وی چی د دښمن د تهد ید سره مخا مخ نشي نو دامریکی متحده ایالات په دی پلمه چي په افغا نستا ن کي د دښمن دزیا تو ګواښ او تهد ید سره مخا مخ نشي نو دانه چي یواځی دغه د«بمونومور» په افغانستان کی وغورځول بلکی غواړی چی د خپل سرتیرو شمیر زیا ت کړی اود خپل دایمی حضور د پاره په افغانستان کي په یو اویا په بل شکل خپل لوبی تر سره کړي .

ددغه هوایی انفجاری سلاح (GBU-34/B) دچا ود نی د نا بودی اود تخریب اغیزی د نیویا رک ټایمزدخرکند ونی په حواله شاوخوا تردوه کیلومترو پوری رسیږی ، اودبلی خوا څخه د ا مریکی د لوړ پوړو مقا ما تو مخکی دمخکی دوروستیو هڅو او اند په نظر کي نیولوسره کوم چي په سوریه کي د نه کوم تاید شوی منبع په حواله دسوریي د دولت پواسطه سره د کیمیاوی سلاح د کاروړلو په تلافی کي په یکسره بنی سره تخریب کونکي اووژونکي سلاح په نظامی اقدام سره په سوریه کي وکارول یو ځل بیا دخپل بربنډ ریاکا رانه خارجی سیا ست په پلی کولو سره د خپل ملت کمزورتیا نړیوالو ته رسوا کړ، نو په دی اړوند سره په افغانستان کي د دغه ستر بمی غیر هستوی چا ود نه د کارپوها نو له خوا داسی تفسیر شوی چی دغه چا ود نه د نړی خلکوته د یو منسجم پیعام لیږدول وه کوم چی په دي ډول سره امریکا یا نو یوځل بیا د خپل بهرني متناقض سیا ست څیره نړیوالو ته په ډاګه کړل .

په الوتکوکي دوري سلاحګا نودسیستم ځای پرځاي کول اوبیا دغه نوموړی سلاحګانی دد ښمن پرا هدافو اوپرسنګرونو باندي غورځول اویا پر دښمن باندي ضربه کول د ډیرو نظا مي کار پوها نوله نظره دامریکا یي پیلوټا نو د مصونیت د پا ره ډیر اغیزمن سیستم منل شوی دي نو ددي ټولو یادونو څخه دی پایلي ته نتیجی ته رسیږو چی په افغانستان کي د ټولو د(بمونو مور) کا رول یواځي یوتبلیغا تی نما یش او یا حتي قدرت نما یي پروپاګند وه اودهغه تفسیر دادي چی امریکا یا ن نه په افغانستان اونه هم په کوم بل ځای کی د **تروریزم** په مخا لفت د جګړی او د مبارزی په روند کی داسی کوم ښکاره پرمختګ نه دی ښود لي بلکه یو ځای په اصطلاح سره بچه ترسا نی فعالیتونه دي چي تر سره کوي .

**دلیکونکی په اړه څو کرښیي:** ګونار یو جیوپولیتیکل تحلیلګر یا څیړونکی دي چي

*دنیویارک په ښار کې ژوند کوی هغه د (New Eastern out look) انلاین مجلی دپاره مقالی لیکي .*

***------------------------------------ په درنا وي «2017-04-22»***